قرآني بيان

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# محبوبيت!


(پاره:30، سورة والضُّحٰی:3)

**05-September-2025**

د مدني مركزونو (فيضان مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوت اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 5 ستمبر، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 12 ربيع الاول، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

(پارہ:30، سورۃُوَالضُّحٰی:3)

# د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوبيت!

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت
- د وَحي ايساريدو يو څو حِکمتونه
- د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نور د حفاظت انداز
- پهٔ ګستاخانو باندې وور وه وريدو

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** تاسو خپل مجلسونه پۀ ما باندې پۀ دُرُودِ پاک وئيلو ښائسته کړئ، ستاسو پۀ ما باندې درود لوستل به د قيامت پۀ ورځ ستاسو د پاره نُور وي- [1]

تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے سَو درودیں فدا، ہزار سلام

رَبِّ سَلِّم کے کہنے والے پر جان کے ساتھ ہوں نثار سلام

وہ سلامت رہا قیامت میں پڑھ لیے جس نے دِل سے چار سلام [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰی ط ﴿۳﴾ (پارہ:30، سورۂ الضحیٰ:3)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د سورۀ وَالضُّحٰی پۀ وړومبو 2 آيتونو مبارکو کښې الله

---

[1] … جامع صغير، صفحه:280، حديث:4580۔

[2] … ذوقِ نعت، صفحه:171170۔

پاک د 2 څیزونو قَسم اِرشاد کړے دے، هُغه دوه څیزونه څهٔ دي؟ علمائے کرامو د هغې نه څهٔ څهٔ مُراد اخستے دے؟ دا وضاحت مونږه اوريدلے دے، نن د سورۀ وَالضُّحٰی دريم آيت مبارک زمونږه موضوعِ ده او دا آيت مبارک د هُغه 2 قَسمونو جواب دے۔ یعنې هُغه دوه قَسمونه کوم چې اللّٰه پاک ارشاد کړل، هغه يې ولې اِرشاد کړي وو؟ د دې وئيلو د پاره چې

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ﴿۳﴾ (پارہ:30، سورۃ الضحیٰ:3)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ستا رَب تهٔ نهٔ پرېښودے يې او نهٔ يې ناخوښه کړے يې۔

مونږ اوريدلي وو چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت اِعلان وفرمائيلو، د هغې نه پس د يو څو ورځو د پاره د وَحي راتلل بند شوي وو، پهٔ دې باندې د مکے کافرانو اعتراض وکړو، د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ شان کښې يې ګستاخي وکړه او تر دې پورې يې ووئيل چې د مُحَمَّد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) رَبّ هغوئې پرېښودي دي۔ د دې پهٔ جواب کښې دا آيت نازل شو، اللّٰه پاک وفرمائيل: اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زمونږ دې پهٔ ضُحیٰ باندې قَسم وي! او پهٔ لَيل باندې دې قَسم وي! چې کله هغه راخوره شي، ستاسو رَبّ نهٔ خو تاسو پرېښودي يئ او نهٔ ستاسو نه ناراضه شوے دے۔ (1)

آيا داسې هم چرته کيدے شي چې ستاسو رَبّ تاسو پرېږدي

| | |
|---|---|
| جتنا مرے خُدا کو ہے میرا نبی عزیز | کونین میں کسی کو نہ ہو گا کوئی عزیز |
| جو کچھ تری رضا ہے خُدا کی وہی خوشی | جو کچھ تری خوشی ہے خُدا کو وہی عزیز |
| کونین دے دیے ہیں ترے اختیار میں | اللہ کو بھی کتنی ہے خاطِر تری عزیز (2) |

---

1...تفسيرِ کبير، پارہ:30، الضحیٰ، زيرِ آيت:3، جلد:11، صفحه:192 خلاصةً۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:136135 ملتقطًا۔

**وضاحت:** خومره چې د الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت دے، په کائنات کښې دومره محبت د هيچا د چا سره نشته- اے خوږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څهٔ چې ستاسو رضا ده، د الله پاک هم هُغه رضا ده، کومه چې ستاسو خوشحالي ده، د الله پاک هم هُغه خبره خوښه ده- د الله پاک د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره دومره محبت دے چې هُغه رَبِّ کائنات ټول جهان د هغوئي په قبضه او اختيار کښې ورکړے دے، د دې نه معلوميږي چې د الله پاک د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زړهٔ خوشحالول خومره خوښ دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا آيت مبارک د کوم چې مونږه د اوريدو سعادت حاصِل کړو، په دې کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے مثله شان بيان شوے دے، د آيت مبارک د وضاحت اوريدو نه مخکښې يو ايمان تازه کوونکے روايت واورئ!

## د جبريل عَلَيْهِ السَّلَام د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت

**روايت** دے چې د فَترتِ وَحي (يعني د وَحي د ايساريدو د ورځو) نه پس چې کله حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام وحي راوړله او راغلو نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تاسو نهٔ راتلې، زما ستاسو د راتلو ارمان وو؟ حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام عرض وکړو: كُنْتُ اِلَيْكَ اَشْوَقَ وَلٰكِنِّيْ عَبْدًا مَّاْمُوْرًا يعني (يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) زما هم ستاسو په بارګاه کښې د حاضرۍ سره ډير زيات شوق وو خو زهٔ بنده يم، د الله پاک د حکم پابند يم- (1)

نہ لگتا تھا سدرہ پہ جبریل کا دِل
گوارا نہ تھی ان کو فرقت نبی کی (2)

---

1…تفسيرِ کبير، پاره:30، الضحٰی، زيرِ آيت:3، جلد:11، صفحه:193-
2…قبالۂ بخشش، صفحه:315-

سُبۡحٰنَ الله! څومره څانګړے محبت دے، حضرت جبريلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام د فرښتو سردار دے، د الله پاک مقرب دے خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادِم دے، د هغوئي د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ډير زيات محبت دے، څکه خو عرض کوي: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما ستاسو په خدمت کښې د حاضريدو ډير زيات شوق وو، ستاسو په جدايۍ کښې زما قرار نۀ وو خو زۀ د الله پاک د حکم پابند يم-

بے لقائے یار اُن کو چین آ جاتا اگر
بار بار آتے نہ یُوں جبریل سدرہ چھوڑ کر (1)

**وضاحت:** حضرت جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام به سِدرَةُ الـمُنتهٰى پريښودله او بيا بيا به بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضريدلو، د دې نه معلوميږي چې هغوئي ته به د محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جُدايۍ کښې سکون نۀ راتللو، که قرار ورته وے نو بيا بيا به يې دومره اوږد سفر نۀ کولو-

## د جبريل عَلَيۡهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت ته حاضرياني

اِمام عمر بن علي حنبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليکلي دي: ❁ حضرت جبريلِ امين عَلَيۡهِ السَّلَام د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام خوا له 12 کرته تشريف راوړے وو ❁ د حضرت ادريس عَلَيۡهِ السَّلَام خوا له 4 کرته راغلے وو ❁ د حضرت نُوح عَلَيۡهِ السَّلَام خوا له 50 ځله راغلے وو ❁ د حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام خوا له 42 کرته راغلے وو ❁ د حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام خوا له 400 کرته راغلے وو ❁ خو د خوږ آقا، محبوبِ خُدا، اِمامُ الانبيا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې (12 کرته نۀ، 20 کرته نۀ، 50 کرته نۀ، درې خلور سوه کرته نۀ، زر کرته نۀ، دوه زره کرته نۀ بلکې) حضرت جبريلِ امين زما د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې 24 زره کرته حاضِر شوے وو- (2)

---

1...ذوقِ نعت، صفحه:133-

2...اللباب فی علوم الکتاب، پاره:19، الشعراء، زیرِ آیت:192، جلد:15، صفحه:79 ملتقطًا-

الله! الله! خومره ښکلے شان دے، په خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د وړومبۍ وَحي نازلیدو نه واخله تر د دُنیا نه د ظاهري پردې فرمائیلو پورې تقریباً 23 کاله موده ده، په دې 23 کالو کښې حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام 24 زره کرته بارگاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، که د دې مونږه اوسط شمیره راوباسو نو روزانه څه کم یا زیات د 6 نه تر 7 کرته پورې حاضري جوړیږي- اوس غور وکړئ چې چرته سِدرَةُ الـمُنتهیٰ--!! په زرګونو کاله سفر--!! حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام به د هلته نه د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې بار بار حاضریدلو-

بار بار آتے تھے جبریلِ امیں | اس قدر مرغُوب تھا کوئے حبیب (1)

## په جبریل عَلَیْہِ السَّلَام باندې عطاګانې

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا خو د حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ حالت دے--!! بیا هغوئي ته د دې صِله څۀ میلاؤ شوه؟ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت په برکت، د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خِدمت په برکت، په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د بیا بیا حاضرۍ په برکت په هغوئي باندې څۀ څۀ عطاګانې وشوې؟ سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي:

پائے جبریل نے سرکار سے کیا کیا القاب
خُسرَ وِ خیلِ مَلَک، خادِمِ سلطانِ عرب (2)

وضاحت: یعني حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه خومره اعلیٰ لقبونه وموندل چې د دې دَر د غلامۍ په برکت هغوئي ته د فرښتو سردار ووئیلے شو او د دې دَر د خدمت په وجه هغوئي ته خادِمِ سلطان عرب کیدو سعادت هم حاصل شو-

1...قبالۀ بخشش، صفحه:109۔
2...حدائق بخشش، صفحه:59۔

فرشتوں میں افضل کیا یُوں خُدا نے
کہ کرتے تھے جبریل خِدمت نبی کی[1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې نه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت فضیلت هم معلوم شو، د عشق او محبت په وجه په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ د پاره لیوالتیا او مدینے منورې ته د بیا بیا حاضریدو فضیلت هم معلوم شو چې حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام ورسره محبت وکړې، بیا بیا د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضر شي نو داسې عطاګانې پرې کیږي نو چې مونږه غلامان حاضر شو، مونږ د مدینے منورې په یاد کښې ناقلاره شو، مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبت وکړو، د هغوئي په سُنَّتو باندې عمل وکړو نو آیا مونږ به محرومه پاتې کیږو؟ اګر که مونږ ګنهګاران یو، مونږه بے کاره یو، خراب یو، د حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام د لارې خوا ته هم نهٔ شو رسیدے خو

شانِ کرم کو اچھے بُرے سے غرض نہیں | اس کو سبھی پسند ہیں، اس کو سبھی عزیز[2]

الله پاک دې زمونږه د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت نصیب کړې، کاش چې د مدینے منورې په یادونو کښې ناقلاره کیدل مو نصیب شي، کاش چې بیا بیا مو مدینے منورې ته حاضري نصیب شي او کاش ډیر کاش چې شنې جنګلې وې، د ګنبدِ حضرا د رحمت نه ډک سورے وې، په شونډو باندې درود او سلام وې، په داسې حالت کښې مو ساه وخیژي او د مصطفٰے جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدایت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ښپو مبارکو کښې راپریوځو او رُوح مو د تن نه جُدا شي۔

مدینے جائیں، پھر آئیں، دوبارہ پھر جائیں | اسی میں عمر گزر جائے یاخُدا یارَبّ!
مرا ہو گنبدِ خضرا کی ٹھنڈی چھاؤں میں | رسولِ پاک کے قدموں میں خاتمہ یارَبّ![3]

---

1...قبالۂ بخشش، صفحه:313۔
2...ذوقِ نعت، صفحه:135۔
3...وسائلِ بخشش، صفحه:87۔

# د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبوبيت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اللّٰه پاک فرمائي:

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ؕ﴿۳﴾ (پاره:30، سورة الضحٰی:3)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ستا رَب تهٔ نهٔ پرېښودے یې او نهٔ یې ناخوښه کړے یې۔

دا آیت مبارک د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبوبيت مختصر بیان دے، هسې د اللّٰه پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څومره محبت دے، مونږ د دې هډو اندازه نهٔ شو لګولے، مونږ د دې محبت اندازه که زیات نه زیاته بیانولے شو نو صرف بس هم دومره چې

کسی کو کسی سے ہوئی ہے نہ ہو گی | خُدا کو ہے جتنی محبّت کسی کی(1)

غرض دا چې د اللّٰه پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره څنګه محبت دے؟ څومره محبت دے؟ مونږ ته معلومه نهٔ ده، نهٔ ترې خبریدے شو، البته پهٔ دې آیت مبارک کښې د دې محبت څهٔ نا څهٔ نظاره پهٔ نظر راځي۔

## د وَحي ایساریدو یو څو حِکمتونه

د تېولو نه وړومبے خو پهٔ دې خبره باندې غور وکړئ چې **د یو څو ورځو د پاره وَحي راتلل بند شوي وو** غیر مسلمو دې ته پهٔ غلط نظر وکتل، د دې نه یې منفي نتیجه ویستله، هغوئي وګڼله چې وحي نهٔ نازلیږي ځکه د دې نه معلومیږي چې د مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رَبّ هغوئي پریښودے دے، د هغوئي نه ناراضه شوے دے۔ د هغوئي خپل یو نظر وو، ظاهره ده چې څنګه دِماغ وي، هم هُغسې سوچ وي، کافرانو منفي سوچ وکړو، اللّٰه پاک وفرمائیل:

مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ؕ﴿۳﴾ (پاره:30، سورة الضحٰی:3)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ستا رَب تهٔ نهٔ پریښودے یې او نهٔ یې ناخوښه کړے یې۔

1 ...ذوق نعت، صفحه:234۔

اوس دلته چې د زدکړې کومه خبره ده، هغه دا ده چې الله پاک خو د کافرانو رَد وفرمائيلو چې د وَحي د يو څو ورځو د پاره ايساريدل، دې د پاره نۀ دي چې الله پاک نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پريښودے دے بلکې د دې حِکمتونه څۀ نور څۀ دي، اوس هٰغه حِکمتونه څۀ دي؟ علمائے کرام فرمائي: وَحي نازليدل وړه خبره نۀ وه، الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائيلي دي چې که دا قرآن پۀ غر باندې نازل کړے شوے وو نو د دې پۀ بوج باندې به غر ذرې ذرې شوے وو، يعنې وَحي دومره درنۀ وي، ځکه الله پاک پۀ خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې پۀ يو ځائے وحي نازله نۀ کړه بلکې وړومبے وَحي راتلل شروع شو، بيا د څۀ وخت د پاره ايساره کړے شوه، بيا وَحي شروع شوه، بيا د څو ورځو د پاره ودرولے شوه، داسې پۀ ورو ورو د وَحي سلسله وکړے شوه، ولې؟ د پاره د دې چې ✿ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مشقت کښې پرې نۀ وځي ✿ پۀ زړۀ مبارک باندې يې بوج زيات نۀ شي ✿ زړۀ مبارک يې پۀ اطمينان او سکون سره هم وي او ✿ د وَحي شوق يې هم زياتيږي۔ (1)

الله! الله! غور وکړئ چې د الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره څومره ځانګړے محبت دے، چې د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مبارک زړۀ باندې بوج پريوځي، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مشقت کښې راشي، د الله پاک دا هيڅکله هم خوښ نۀ دي، ځکه پۀ ورو ورو د وَحي سلسله جاري وساتلے شوه۔

| | |
|---|---|
| واہ کیا مرتبہ ہوا تیرا | تُو خُدا کا ہوا تیرا |
| ایک عالَم خُدا کا طالِب ہے | اور طالِب خُدا ہوا تیرا (2) |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...فتح الباری، کتاب بدء الوحی، 3 باب، جلد:1، صفحه:37 خلاصةً۔

2...ذوق نعت، صفحه:6968 ملتقطًا۔

پۀ سورۂ طٰہٰ کښې اللّٰه پاک فرمائي:

مَاۤ اَنۡزَلۡنَا عَلَیۡکَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰۤی ۙ﴿۲﴾ (پاره:16، سورۂ طٰہٰ:2)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے حبيبه! مونږ پۀ تا باندې دا قرآن دې د پاره نۀ دے نازل کړے چې تۀ پۀ مشقت کښې پريوځې۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! خومره ښکلے شان دے زما د محبوب آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم---!! پۀ روايتونو کښې دي: خوږ نبي، ښۀ نبي، رښتوني نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د شپې عبادتونه کول، تر دې پورې چې د هغوئي ښپې مبارکې به وپړسيدلې پۀ دې باندې دا آيت مبارک نازل شو او اللّٰه پاک وفرمائيل: اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پۀ تاسو باندې دا قرآنِ دې د پاره نۀ دے نازل شوے چې تاسو ځان پۀ مشقت کښې واچوئ[1] بلکې اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!

قُمِ الَّیۡلَ اِلَّا قَلِیۡلًا ۙ﴿۲﴾ نِّصۡفَہٗۤ اَوِ انۡقُصۡ مِنۡہُ قَلِیۡلًا ۙ﴿۳﴾ (پاره:29، سورۂ المزمل:32)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: د شپې د لږې شان حصې نه پۀ علاوه کښې قيام کوه- نيمه شپه (قيام کوه) يا د دې نه څۀ کم کوه-

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سورۂ طٰہٰ پۀ تفسير کښې فرمائي: نورو ته د اعمالو زياتولو حکم دے خو حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د اعمالو کمولو هدايت دے-[2]

او د دې حِکمت څۀ دے؟ دا چې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ مشقت کښې پريوتل د اللّٰه پاک خوښ نۀ دي-

1...تفسير صراط الجنان، پاره:16، طٰہٰ، زيرِ آيت:2، جلد:6، صفحه:173 خلاصةً۔

2...تفسير نور العرفان، پاره:16، طٰہٰ، زيرِ آيت:2، صفحه:375۔

| | |
|---|---|
| خُدا مدح خواں ہے خُدا مدح خواں ہے | مرے مصطفٰے کا، مرے مصطفٰے کا |
| خُدا کا وہ طالِب، خُدا اس کا طالِب | خُدا اس کا پیارا، وہ پیارا خُدا کا [1] |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د محبوب د حفاظت ځانګړي شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک فرمائي:

مَاوَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَاقَلٰى ؕ﴿۳﴾ (پاره:30، سورۃ الضحیٰ:3)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ستا رَب تهٔ نهٔ پرېښودے يې او نهٔ يې ناخوښه کړے يې۔

دلته ذِهن ته يوه پوښتنه راځي چې الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو رَبّ تاسو نهٔ يئ پرېښودي۔ پوښتنه دا ده چې کله يې نهٔ دي پرېښودي او د کله نه يې نهٔ دي پرېښودي؟ مفسرينِ کرامو د دې جواب ورکړے دے، فرمائي: مُنْذُاِخْتَارَكَ يعني اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د کله نه چې ستاسو رَبّ تاسو اختيار (يعني محبوب جوړ) کړي يئ، د هٰغه وخت نه (واخله تر اوسه پورې يوه ورځ، لږ وخت، لږ ساعت)هم ستاسو رَبّ تاسو نهٔ يئ پرېښودي۔ [2]

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا خو د يو څو ورځو د پاره وَحي ايساره شوې وه نو کافرانو د دې نه غلطې نتيجې راويستل شروع کړل، هغوئي ګڼل چې ستاسو رَبّ تاسو پرېښودي يئ خو اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا د هغوئي ناداني ده، بے وقوفي ده، ستاسو شان خو دا دے چې د کله نه ستاسو رَبّ تاسو پيدا کړي يئ، د هٰغه وخت نه يې تاسو خپل محبوب جوړ کړي يئ او د هٰغه وخت نه واخله تر اوسه پورې تاسو هر هر

1...ذوقِ نعت، صفحه:57۔

2...تفسيرِ بغوی، پاره:30، الضحٰی، زيرِ آيت:3، جلد:4، صفحه:632۔

ساعت د خپل رَبِّ کريم پۀ حفاظت کښې يی، ستاسو د رَبِّ ذِيشان د کرم نظر لږ ساعت د پاره هم ستاسو نه نۀ دے جُدا شوے۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور د حفاظت انداز

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوس لږ دا غور وکړئ چې الله پاک خپل خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کله نه خپل محبوب جوړ کړے دے؟ د هُغه وخت نه د کله نه چې يې هغوئي پيدا کړي دي او کله يې پيدا کړي دي؟ پۀ حديثِ پاک کښې دي: اَوَّلُ مَا خَلَقَ اللہُ نُوْرِی (يعنې کله چې دا زمکه هم نۀ وه، اسمان هم نۀ وو، انسانان، پيريان، فرښتے هيڅ څه موجود نۀ وو، صِرف الله پاک وو) الله پاک د ټولو نه وړومبے زما نُور پيدا کړو۔ (1) دا د زرګونو لکونو کاله موده ده، پۀ دې ټوله موده کښې محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مسلسل د الله پاک د کرم پۀ نظر او محبت او حفاظت کښې دے۔

پۀ قرآنِ کريم کښې پۀ يو بَل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| الَّذِیْ یَرٰىكَ حِیْنَ تَقُوْمُ ﴿۲۱۸﴾ وَ تَقَلُّبَكَ فِی السّٰجِدِیْنَ ﴿۲۱۹﴾ (پارہ:19، سورۂ الشعراء:219218) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هغه څوک چې تا ويني چې کله تۀ ودريږې۔ او پۀ نمونځ ګزارو کښې ستا دوره کول (ويني)۔ |

د دې آيت يوه معنیٰ علمائے کرامو دا بيان کړې ده چې اے محبوبِ کريمه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام نه واخله تر د حضرت عبد الله او حضرت آمنه رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا پورې چې ستاسو څومره هم پلار نيکونه دي، ټول پۀ ټوله عبادت ګزار او سجدو کولو والا دي، ستاسو نُور چې کله پۀ هغوئي کښې دوره کوله (يعنې د يو نه د بل طرف ته بدليدو) ستاسو د رَبّ هُغه وخت هم پۀ تاسو نظر وو۔ (2)

1...مطالع المسرات، الحزب الثانی فی یوم الثلاثاء، صفحه:225۔

2...تفسیر مظهری، پارہ:19، الشعراء، زیرِ آیت:219، جلد:5، صفحه:311۔

# پۀ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د رَبِّ رحمان عطاګانې

الله! الله! اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! لږ د غور کولو مقام دے، د زدکړې خبره ده، الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره څنګه محبت کوي، پۀ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د کرم څنګه څنګه بارانونه راوريږي، الله پاک چې د کله نه د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نُور مبارک پيدا کړے، د هغه وخت نه يې دا پاک نُور پۀ خپل خاص حفاظت کښې وساتو ❁ هم د هغوئي نُور مبارک يې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام پۀ تندي مبارک کښې کيښودو او پۀ فرښتو باندې يې ورته سجده وکړه ❁ بيا چې دغه نُور مبارک د حضرت شيث عَلَیْہِ السَّلَام پۀ تندي مبارک کښې وځليدو نو پۀ هر ميدان کښې ورته فتح عطا کړے شوه ❁ بيا چې هم دغه نُور مبارک د حضرت نُوح عَلَیْہِ السَّلَام پۀ تندي مبارک کښې روښانه شو نو د طوفانِ نُوح سره ټوله دُنيا غرقه کړے شوه خو حضرت نُوح عَلَیْہِ السَّلَام او د هغوئي ملګري د کشتۍ پۀ ذريعه محفوظ کړے شو ❁ بيا چې هم دغه نُور مبارک د حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام تندي مبارک ته راغلو نو د نمرود د بل کړے شوي هغه لوئي وور نه د هغوئي حفاظت وکړے شو او وور ګل ګلزار جوړ کړے شو ❁ بيا چې هم دغه نُور مبارک د حضرت اسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام پۀ تندي مبارک کښې وځليدو نو د هغوئي پۀ فديه کښې جنّتي ګډ راوستے شو، غرض دا چې زما د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے مبارک نُور چې د کله نه پيدا شوے، هر ساعت د هغۀ حفاظت وکړے شو، پۀ دې مبارک نُور باندې د رحمت او عطاګانو باران راوريدو، تر دې پورې چې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ظاهري دُنيا ته تشريف راوړلو۔

| | |
|---|---|
| محبوب ہو تم خالقِ کل، مالکِ کل کے | کیوں خلق پہ قبضہ نہ ہو سرکار تمہارا |
| تم پیارے نبی نُورِ جلی، سِرِّ خفی ہو | اللہ تَعالٰی ہے خبردار تمہارا[1] |

1... قبالۀ بخشش، صفحه:4746 ملتقطًا۔

وضاحت: اے خوږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو د هر څيز د خالِق، د هر څيز د مالِک الله کريم محبوب يئ، بيا به ستاسو په ټول مخلوق باندې قبضه ولې نۀ وي--؟ تاسو روښانه نُور، يو پټ راز يئ، هم الله پاک دے کوم چې ستاسو نه خبر، ستاسو د حقيقت نه پوره خبردار دے، ستاسو د خپل رحمت په سورې کښې ساتونکے دے۔

## په ګستاخانو باندې وور وه وريدو

د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماشومتوب مبارک خبره ده، چې کله د هغوئي رضائي مور صاحبه سيده حليمه سعديه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا مکے مکرمې ته حاضره شوه، سيدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي د خپل خِدمت د پاره قبوله کړه نو حضرت حليمه سعديه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: ما رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غيږ کښې راواخستو، د هغوئي د مور جانې حضرت آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه مې رخصت راواخستو، په خپله اوښه باندې کيناستم نو اوښې خپل مخ د کعبې شريفې طرف ته کړو، 3 سجدې يې وکړې او بيا په خپله لار روانه شوه۔

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا هُم هُغه اوښه وه کومه چې ډېره ډېپه او کمزورې وه، چې کله سيده حليمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا مکے مکرمې ته راتلله نو دا اوښه د ټولو نه وروستو وروستو وه، ګرځيدے هم نۀ شوه خو اوس د دې شان ځانګړے وو، هم هُغه ډېپه ډېپه او کمزورې اوښه بيا د ټولو نه مخکښې روانه وه، نورو زنانو د سيده حليمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړه: اے حليمه! آيا دا هم هُغه اوښه ده؟ د دې شان خو ډېر عجيبه دے۔ سيده حليمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: ما واوريدل چې اوښې دا خبرې کولې: وَاللهِ اِنَّ لِی لَشَانًا ثُمَّ شَانًا بَعَثَنِیَ اللهُ بَعْدَ مَوْتِی په الله پاک مې دې قَسم وي! نن زما ډېر لوئې شان دے، بيا مې نور هم لوئې شان دے، نن رَبِّ قدير ما ته د مرګ نه پس ژوند راعطا کړے دے۔ (1)

---

1...البلبل الصادی، مولد الشيخ عقيل افندی، صفحه:189188 خلاصةً۔

سيده حليمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا فرمائي: پۀ لاره کښې پۀ يو ځائے کښې ما وليدل چې 40 غير مسلمه راجمع وو، هغوئي تورې راويستې وې او د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ باره کښې يې خبرې کولې، کله چې هغوئي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وليدلو نو اوئې وئيل: وَيْحَكُمْ هٰذَا هُوَالْغُلَامْ فَاقْتُلُوْهُ ستاسو دې خرابي وي، دا هم هغه دے، دا قتل کړئ! (مَعَاذَ الله!)

سيده حليمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا فرمائي: د هغوئي دا خبره چې مې واوريدله نو زما د خُلې نه بے اِختياره ووتل: وَا مُحَمَّداه! آه...!! مُحَمَّد! بس زما پۀ ژبه دا راتلل وو چې محبوبِ خُدا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې مبارکې سترګې وغړولې، اسمان ته يې وکتل، بس د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نظر مبارک چې څنګه پۀ اسمان باندې پريوتو نو ناڅاپه د اسمان نه يو وور راغلو کوم چې هغه 40 واړه غير مسلمه وسيزل او اِيره اِيره يې کړل- [1]

نُورِ خُدا ہے کفر کی حرکت پہ خندہ زن | پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا [2]

سُبْحٰنَ الله! وګورئ چې الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره څنګه محبت دے---!! د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه حفاظت وکړے شو، غرض دا چې محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د اوچتې مرتبې هستي ده چې د کله نه الله پاک د هغوئي نُور مبارک پيدا کړے دے، د هغه وخت نه تر اوسه پورې هر ساعت، هره ورځ، هره کېنته د الله پاک د کرم نظر او محبت، حفاظت د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره دے-

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځانګړے شان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پۀ دې ځائے کښې يوه ډيره ښکلې او ايمان تازه کوونکې نکته ده- الله پاک پۀ قرانِ کريم کښې د خپل نبي حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام شان بيان کړے، ارشاد دے:

---

1...البلبل الصادی، مولد الشيخ عقيل افندی، صفحه:140139 ملتقطًا-
2...بهار ستان، صفحه:151-

| | |
|---|---|
| وَ اَیَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ (پارہ:3، سورۃالبقرہ:253) | ترجمہ کنزُالعِرفان: او د پاکیزه رُوح په ذریعه مو د هغهٔ مدد وکړو۔ |

د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام شان دا دے چې هغوئي مُؤَيَّد بِالْجِبْرِيْل دے یعني هغوئي ته د حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام تایید او قوت ورکړے شو، حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام ته حکم وو چې د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام سره اوسي، ځکه به په سفر کښې په حَضَر کښې هغوئي د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام سره وو۔ [1] یقیناً چې دا هم ډیر لوئي شان دے خو قربان شم! زما او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هم آقا دے، اِمامُ الانبیاء دے، د نبیانو نبي دے، هغوئي مُؤَيَّد بِالْجِبْرِيْل نهٔ بلکې مُؤَيَّد بِالله دے، یعني د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام په ذریعه ملاتړ اونه کړے شو بلکې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَ مَا قَلٰى ؕ ﴿۳﴾ (پارہ:30، سورۃالضحیٰ:3) | ترجمہ کنزُالعِرفان: ستا رَب تهٔ نهٔ پرېښودے یې او نهٔ یې ناخوښه کړے یې۔ |

معلومه شوه چې هغه حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام وو کوم ته چې د حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام په ذریعه قوت ورکړے شو، دا محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، دوي الله پاک په خپل خاص کرم او تائید، مدد او نصرت، رحمت او عنایت باندې سرفراز کړي دي۔

الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ بِاَعْیُنِنَا (پارہ:27، سورۃالطور:48) | ترجمہ کنزُالعِرفان: او اے محبوبه! تهٔ د خپل رَبّ په حُکم قائم اوسه چې بے شکه تهٔ زمونږه په نظر (رحمت) کښې یې۔ |

1...تفسیرِ خازن، پارہ:1، البقرہ، زیرِ آیت:87، جلد:1، صفحہ:59 خلاصةً۔

الله! الله! دا زما د خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څانګړے شان دے--!! نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هر وخت، هر ساعت د الله پاک په حفاظت او رحمت، کرم او نصرت او مدد او تائيد باندې سرفراز دے۔

## د قرآنِ کريم د لږ لږ نازليدو يو حِکمت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **مُؤَيَّدبِالله** دے يعنې هغوئي الله پاک په خپل خاص تائيد او مدد سره سرفراز کړے دے، د دې يو مثال دا هم دے چې ❁ الله پاک په حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې **تورات شريف** نازل کړو نو ټول **تورات شريف** يـې په يو ځائے نازل کړو ❁ په حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام باندې يـې چې **زبور شريف** نازل کړو نو ټول **زبور شريف** يـې په يو ځائے نازل کړو ❁ په حضرت عيسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې يـې چې انجيل شريف نازل کړو نو ټول **انجيل شريف** يـې په يو ځائے باندې نازل کړو خو په محبوبِ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې يـې چې کله **قرآنِ کريم** نازلول غوښتل نو **ټول قرآنِ کريم يـې په يو ځل باندې نازل نهٔ کړو بلکې په 23 کاله** موده کښې يـې لږ لږ نازل کړو۔

**اخر ولې؟** ټول قرآنِ کريم په يو ځل باندې ولې نازل نهٔ کړے شو؟ په دې کښې هم يو قِسم له د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تائيد دے، تاسو قرآني آيتونه او د هغې شانِ نزول ګورئ! ❁ زما خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته چې کله هم څهٔ اهمه مسئله راپيښه شوې نو الله پاک وَحي فرمائيلې ❁ چې کله هم څهٔ اهمه واقعه پيښه شوې نو الله پاک وحي نازله کړې ❁ د دِين په تبليغ کښې که څهٔ مشکل مخې ته راغلےنو الله پاک وَحي نازله کړې ❁ کافِرانو چې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته څهٔ تکليف ورسولے نو الله پاک وَحي نازله کړې ❁ غير مسلمو چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړهٔ ته څهٔ تکليف رَسَوَلے نو رَبِّ کريم به د قرآني آيتونو په ليږلو تسلي فرمائيلې ❁ منافقانو

چې سازشونه وکړل الله پاک د وَحي په ذریعه د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مدد او نصرت وکړو، غرض دا چې تر 23 کالو پورې د قرآنِ کریم نزول مسلسل جاري وو او داسې به په هره یوه موقع باندې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تائید او نصرت او د خصوصي مدد او د حفاظت سلسله هم روانه وه۔

## د کافِرانو د دریو سوالونو جوابونه

په روایتونو کښې دي: یو ځل د قریشو کافرانو په خپل مینځ کښې مشوره وکړه چې یهودیان اَهلِ کتاب دي، هغوئي د انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلام په باره کښې معلومات لري،نو هغوئي یو څو کسان یهودیانو ته ولیږل چې د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په باره کښې د هغوئي نه معلومات حاصل کړي۔

دا کسان مدینے منورې ته ورسیدل ، هلته اوسیدونکي یهودیانو نه یې په دې باره کښې معلومات حاصل کړل نو هغوئي دې مکې والؤ ته یو څو سوالونه وښودل او اوئې وئیل چې د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د دې سوالونو پوښتنې وکړئ، که هغوئي زمونږ د ښودلے شوو سوالونو مطابق جواب درکړي نو وګڼئ چې هغه رښتونے نبي دے۔

د یهودیانو د عالمانو خبرې چې یې واوریدلې نو هغه دوه کسان واپس راغلل۔ اوس د مکے کافرانو ته یو لوئې واضِحه پیژندګلو میلاؤ شوې وه، هغوئي دغه سوالونه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې وړاندې کړل! نو په دې موقع باندې الله پاک د سُورۀ کهف او د سورۀ بني اسرائیل څۀ آیتونه نازل کړل۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** وګورئ چې د مکے کافرانو په خپله طریقه د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څنګه امتحان اخستو، الله پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تائید وکړو او په وَحي نازلولو یې دا واضِحه کړه چې محبوبِ

---

1...تفسیر بغوی، پارہ:15، الکھف، زیرِ آیت:85، جلد:2، صفحہ:711 خلاصۃً۔

ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے نبي دے- دا صِرف یوه واقعه نۀ ده، تاسو د **تفسیر صِراطُ الجنان** پۀ مدد سره د ټولو قرآني آیتونو شانِ نزول راجمع کړئ! هغه ولولئ نو معلومه به شي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ هره موقع باندې اللّٰه پاک د قرآني آیتونو پۀ نازلولو د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تائید او مدد فرمائیلے دے-

خیر! دا یو ښکلے آیت مبارک دے:

**مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَ مَا قَلٰىؕ(۳)**
(پارہ:30، سورۃ الضحیٰ:3)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** ستا رَب تۀ نۀ پریښودے یې او نۀ یې ناخوښه کړے یې-

د دې آیت مبارک پۀ ضِمن کښې د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نور هم ډیر شانونه بیان شوي دي، وخت کم دے ځکه پۀ اخره کښې د دې آیت مبارک پۀ باره کښې یوه ایمان تازه کوونکې بله نکته واورئ!

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غلامانو فضیلت

اِمام فخرُ الدِّین رازي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دا ایمان تازه کوونکې نکته بیان کړې ده، خُلاصةً یې عرض کووم، هغوئي لیکلي دي: اللّٰه پاک فرمائیلي دي:

**مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَ مَا قَلٰىؕ(۳)**
(پارہ:30، سورۃ الضحیٰ:3)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** ستا رَب تۀ نۀ پریښودے یې او نۀ یې ناخوښه کړے یې-

دلته وګورئ چې اللّٰه پاک څوک نۀ دے پریښودے؟ فرمائي: **ک** اے محبوبه! تاسو مې نۀ یې پریښودي- اللّٰه پاک د چا نه نۀ دے ناراضه شوے؟ پۀ آیت کښې د دې ذِکر نشته- لهذا اوس د آیت مفهوم به صِرف دا نۀ وي چې اے محبوبه! اللّٰه پاک ستاسو نه نۀ دے ناراضه شوے، بلکې معنیٰ ده چې: اللّٰه پاک ناراضه نۀ شو- د چا نه ناراضه نۀ شو؟ اِمامِ رازي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: مطلب دا دے چې ❁ اے محبوبه! اللّٰه پاک ستاسو نه هم ناراضه

نۀ شو ❁ ستاسو د صحابۀ کرامو نه هم ناراضه نۀ شو او ❁ تر قیامته پورې چې کوم کوم خوش قِسمته ستاسو رښتونې غلامي اِختيار کړي، ستاسو سره رښتونے محبت کوي، ستاسو په برکت به الله پاک د هغوئي نه هم نۀ ناراضه کيږي- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا هم د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبوبيت شان دے چې هغوئي خو پخپله د الله پاک محبوب دے خو د دې سره سره الله کريم هغوئي ته دا شان هم عطا کړے دے چې کوم خوش قِسمته د هغوئي جولۍ اونيسي، د هغوئي رښتونې غلامي اِختيار کړي، الله پاک هغوئي ته هم د خپلې رضا نعمت عطا کوي- مولانا حسن رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ څومره ښکلې خبره کړې ده:

دِل سے ذرا یہ کہہ دے کہ اُن کا غُلام ہوں
ہر دُشمنِ خُدا ہو خُدا کو ابھی عزیز (2)

الله پاک دې زمونږ د ټولو د محبوبِ ذِيشان، د دواړو جهانو د سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے، پوخ محبت نصيب کړي، هغه صحابۀ کرام عَلَیہِمُ الرِّضْوَان کوم چې د ايمان معيار، د عشقِ رسول معيار دي، الله پاک دې مونږ ته د هغوئي سره هم د بے کچه عقيدت او محبت لرلو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آن لائن اِستخاره موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د خلقو د اسانۍ او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخورۍ د پاره موبائل ايپلي کيشن ***Online rohani ilaj & istikhara*** معارفي کړے دے- د

1...تفسيرِ کبير، پاره:30، الضحٰی، زيرِ آيت:3، جلد:11، صفحه:192 خلاصةً۔
2...ذوقِ نعت، صفحه:136۔

دې ایپلي کیشن پهٔ مرسته تاسو ❀ آن لائن استخاره کولے شئ ❀ د بیمارۍ، نظر، جادو، منتر وغیره مسئلو د حل کولو د پاره في سبیل الله تعویذونه حاصلولے شئ ❀ او آن لائن کاټ هم کولے شئ۔ **نور پهٔ دې ایپلي کیشن کښې** ❀ د بیمارۍ ❀ غریبۍ ❀ غم، پریشانۍ ❀ او د افتونو او بلاګانو وغیره نه د حفاظت مختلف اوراد او وظیفې هم شاملې دي۔ پهٔ خپل سمارټ فون کښې دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## راځئ چې د بیان پهٔ اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د مُقَدَّس نوم والا بیج اچولو سره بیتُ الخلا ته تلل مکروه او بے ادبي ده۔

**وضاحت:** د ربیع الاول شریف میاشت ده، عام طور عاشقانِ رسول د نعلین شریف والا، د خانه کعبې، ګنبدِ خضراء د نقش یا د مختلفو لیکلو بیجونه لګولي وي، یاد ساتئ چې د داسې بیجونو لګولو سره بیتُ الخلاء ته تلل مکروه او بے ادبي ده۔ [1] زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ ګوتمه مبارکه باندې **مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ الله** لیکلے شوي وو، پهٔ **ترمذي شریف** کښې دي: چې کله به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیتُ الخلاء ته تللو نو خپله ګوتمه مبارکه به یے ویستله۔ [2]

لهذا یاد ساتئ چې د دې خبرې دې خیال وساتلے شي چې د مقدسو نومونو والا نعلینِ پاک، د ګنبدِ خضراء وغیره والا بیجونه لګول بالکل جائز دي خو چې کله هم بیتُ الخلاء

---

1...دارُالاِفۡتَاء اَہۡلسُنَّت، غیر مطبوعه، فتاویٰ نمبر: Sar7584۔

2...ترمذی، کتاب اللباس، باب ما جاء فی لبس الخاتم، صفحه: 437، حدیث: 1746۔

ته تلل وي نو داسې قِسمه بيجونه اوباسئ او په يو مناسب ځائے کښې يې ږدئ! که د ضائع کيدو خطره وي نو په جيب کښې يې اچوئ! يا بل څۀ د ادب والا صورت اختيار کړئ!

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰى برکتونه (وظيفه)

## يَا حَفِيظُ

څوک چې روزانه 16 کرته يَا حَفِيظُ لولي هر قِسمه بهادر به اوسي- [1] اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم!

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...مدنی پنج سوره، صفحه:251۔